مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکواله: ځانګه اتل ۲۰۱۸/۱۰/۱۶

# د افغانستان ځلوېښت کلنه غميزه او د سولې هڅې

له تېرو ځلوېښتو کلونو راهيسې افغانستان د نورو لرې او نږدې دښمنانو له خوا په لګول شوي اور کې سوځي .بده يې لا دا چې دې اور ته تر ډېره پخپله د همدې وطن ځينې ناخلف بچيان پوکی ورکوي او په يو ډول په لوی لاس د دې جګړې د اور لپاره د سون لرګي شوي دي.

افغانستان د خپل طلايي جيوپوليټيک موقعيت له کبله د سيمې او نړی په کچه د ډېر شمېر هيوادونو توجه خپله کړې او هر هيواد هڅه کوي چې د دغه موقعيت د کنټرول د ترلاسه کولو لپاره خپل ټول سياسي، اقتصادي او حتی پوځي زور وکاروي.

په وروستيو ځلورو لسيزو کې يو شمېر ګاونډي هيوادونه د ځينو لويو او بډايو هيوادونو په لاسنيوي د دې هيواد د بې ثباته کولو او د اساسي بنسټونو د له منځه وړلو پوره هڅې کړې دي .دا چې دغو هيوادونو په خپل زور د دې هيواد د ايل کولو وس په ځان کې نه ليده نو له پيله تراوسه پورې يې دا هڅه کړې چې د يو شمېر افغانانو په شموليت ځينې سياسي او پوځي جوړښتونه رامنځته کړي او له هغوی ملاتړ وکړي .ځينو دغو کړيو دغو هيوادونو ته په افغانستان کې د لاسوهنې پراخې زمينې مساعدې کړې او د جګړې لمن يې لا نوره پسې وغځوله.

د يادو ځلوېښتو کلونو په لومړيو کې د سولې په نسبت هڅې نه ترسترګو کېږې خو وروسته له هغه د ډاکټر نجيب په مشرۍ نظام رامنځته شو، د سولې لپاره پر ځينو لارو چارو غور وشو .نجيب د ملي مصالحې پروسه اعلان کړه، خو دې پروسې ځکه کوم ځای ونه نيو چې نه په ملي، نه په سيمه ييزه او نه په نړيواله کچه د سولې لپاره کومه رښتنې اراده موجوده نه وه .که يو څه پرمختګ به ليدل کېده هغه به هم ډېر موقتي و .موقتي د دې لپاره و چې د افغانستان دښمنانو غوښتل سوله غوښتونکي افغان اغفال کړي .د اغفال دا پروسه له هغه وخته تراوسه پورې په هماغه کچه روانه ده او دا تصور موجود دی چې ترڅو د يوې خوا مجبوريتونه رامنځته نه شي نو دا جګړه به يا ورو يا ګړندی دوام مومي.

د سولې لپاره په تېرو اووه لسو کلونو هيلې يو څه زياتې شوې .خو ژر تکنی شوې، ځکه يو شمېر هيوادونو نه غوښتل چې افغانستان د يو باثباته نظام خښتن شي او ټوله اداره پخپل لاس کې ولري .نو هڅې وشوې چې تفرقې او ګډوډۍ ته لمن ووهل شي او افغان نظام له دننه داسې خورو وورو وي چې اساسي مسايلو ته يې پام وانه وړي .مثلا د لومړنيو اساسي اقتصادي بنسټونو رغول .که چېرته داسې وشي نو افغانان به د ملکيت پوره احساس سره په هرڅه خپل کنټرول زياتوي په تېره پر هغو اوبو باندې چې هرکال په پريمانه کچه او مفته ختيځ او لوېديځ ته بهيږي.

په ظاهره د بن په ناسته کې د ځينو کړيو لرې والی د افغانستان د جګړې د بيا توديدو سبب شو. جګړو يو ځل بيا زور واخيست او تر يو بريده د سولې لپاره اړتيا احساس شوه .خو په لويه کچه ونه پالل شوه .د کرزي په دوره کې ډېره هڅه وشوه چې د جګړې يو مهم لوری يعني حزب اسلامي له نظام سره يو ځای شي، خو دا هڅې د څو ځرګندو او ناځرګندو دلايلو له کبله هرځل د پايلې په وخت کې له خنډ و ځنډ سره مخ کېدلې چې دې کار بيا خپل کورنې او بهرنې عوامل درلودل .يو شمېر هيوادونه او استخباراتي شبکې او دننه په افغانستان کې يو شمېر کړی د خپلو ګټو په خاطر دې پروسې ته حاضر نه و .حتی د سولې کومه عالي شورا هم چې جوړه شوې وه، د دې خنډونو په وړاندې د خپلو داخلي اختلافاتو او د نورو قوتونو د مخالفت له کبله نه توانېده چې دا پروسه عملي کړي.

د ملي وحدت حکومت په وخت کې سره له دې چې مخالفتونه لا هم پخپل قوت کې موجود وو، دې هڅو يو څه رنګ راوړ .په دې بهير کې د ملي وحدت حکومت تر چتر لاندې ځينو اشخاصو په پوره رښتينولی هڅه وکړه چې د سولې



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

لپاره لومړئ له حزب او بيا له نورو مخالفانو سره د سولې پروسه تعقيب شي .په دې لړ کې د ملي امنيت د پخواني سلاکار حنيف اتمر هڅې د ستاينې وړ دي .هغه د خپلو هڅو په پايله کې د سولې داسې يو ميکانيزم برې ته ورساوه چې هم يو مخالف له مخالفته لاس واخلي او هم د زياتو امکاناتو د غوښتلو غوښتنه ونه لري .نوموړي د رسنيو له استازو سره د خبرو پر مهال بيا بيا دې اندېښنو ته په پام چې دا بهير به په سم لوري ځي او ستونزې به نه راولاړوي، اطمينان ورکاوه .بالاخره هغه څه وشول چې نوموړي ويل.

پر دې سربېره د دولت له نورو مخالفانو سره هم د سولې هڅې جاري وساتل شوې .پټې او ښکاره ناستې وشوې او دا هيلې رامنځته شوې چې طالبانو سره هم سوله کېدونکې ده .دا مساله وروسته له هغه ښه راڅرګنده شوه چې د حنيف اتمر په هڅو د همدغه کال په کوچني اختر کې د لومړي ځل لپاره د طالب او حکومت ترمنځ درې ورځنۍ اوربند اعلان شو .دې اوربند خلک د سولې په نسبت ډېر هيله من کړل او دا تمه موجوده وه چې د اختر اوربند او سولې ته د عادي طالبانو تنده سوله به ځنډنۍ نه پاتې کېږي.

اتمر په رښتني توګه هڅه کوله چې د جګړې عوامل په ګوته کړي او بيا يې د له منځه وړلو هڅه وکړي .تمه کېږي چې نوموړی اوس هم چې په دې برخه کې لوی لاس لري دغه بهير تعقيب کړي او د سولې په نسبت هيلې نهيليو ته پرېنږدي.

که چېرته د سولې لپاره ځينې داسې اشخاص، کړئ او حکومت په رښتني توګه خپله وفاداري څرګنده کړي، سوله لرې او ناشوني نه ښکاري

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ